

## WeBSafe، د سفر ملګرې چې مهاجرت خوندي کوي

## پر سرک موجود خطرونو ته متوجه اوسئ، له هغې ډلې انساني قاچاق ته!

د سفر په حال کې خلک بېلابېلې اړتياوې لري او ښايي د نورو په پرتله ډېر زيان منونکي وي، په ځانګړې توګه کله چې هغوی د کوربه هېواد په ژبه نه پوهېږي. ځيني خلک له دغه زيان منلو څخه ګټه پورته کوي او کډوال د بېلا بېلو موخو لپاره کاروي لکه:

- ✔ په زوره کار کولو ته اړ ایستل: ځيني وخت په زوره دې ته اړ باسل کېږي چې ډېر ساعتونه کار وکړي، له نورو څخه کمې پيسې ورکول کېږي او که چېرته د کار د پرېښودو پرېک ره وکړي، نو ګواښل کېږي
- ✔ په جرايمو محکومېدل: هغوی دې ته اړ باسي چې په غير قانوني فعاليتونو کې ښکېل شي، لکه د داسې کار پيلول چې په ځينو هېوادونو کې منع دی، يا له نورو خلکو سره مرسته کول تر څو په غيرمنظم ډول له پولې څخه تېر شي
- ✔ د جنسي استثمار لپاره: ښځې، نجونې، ځيني وخت نارينه او هلکان فحشا ته اړ ایستل کېږي او يا جنسي ځورول کېږي.

## ستاسو له اړتياوو سره مناسب ملاتړ او مرسته

هغه خلک چې په سيمه کې د سفر په حال کې دي، له بېلا بېلو هېوادونو څخه له متفاوتو کلتورونو سره راغلي دي او په متفاوتو ژبو خبرې کوي. هو، هغوی ځيني وخت ځانونه په داسې وضعيت کې مومي چې ملاتړ يا مرستې ته اړتيا لري. که چېرته تاسو ناروغ شوي ياست او بېړنۍ طبي پاملرنې، خوړو او سرپناه ته اړتيا لرئ، که چېرته ټولنيز خونديتوب ته اړتيا لرئ، که چېرته تاسو خپل يا د خپلو ماشومانو (يا د نورو ماشومانو) خونديتوب ته اندېښمن ياست، که چېرته تاسو خلکو ځورولي ياست او خونديتوب ته اړتيا لرئ، که چېرته ستاسو حقونه نقض شوي وي او غواړئ چې د خپلو حقونو په اړه پوهاوی ترلاسه کړئ، نو د يوه وکيل په مرسته بېلابېل خدمتونه موجود دي چې ستاسو ملاتړ وکړي،

د WeBSafe اپلیکېشن به تاسو ته لارښوونه وکړي تر څو په ډاګه کړئ چې تاسو کوم خدمت ته اړتيا لرئ او تاسو ته به تازه معلومات درکړي تر څو د دغه خدمت له چمتو کوونکي سره اړيکه ټينګه کړئ، دا ټول به په هغه ژبه وي چې تاسو پرې پوهېږئ.

# په لوېديځ بالکان کې د حرکت په حال کې خلک

هغه خلک چې په لوېديځ بالکان کې د سفر په حال کې دي، له بېلا بېلو ستونزو سره مخ کېږي چې د دې ټولې سمې د هر هېواد له قوانينو او پاليسيو څخه کله کله اغېزمنېږي. ځيني يې د کډوالۍ په يوې فعالې پروسې کې ښکېل وي، چې په منظمه يا غير منظمه توګه له بېلا بېلو هېوادونو څخه تېرېږي. نور په مشخص هېواد کې حاضر دي او داسې پلان نلري چې په لنډه يا منځنۍ موده کې وړاندې لاړ شي. ځيني خلک ښايي په رسمي بڼه راجستر شوي وي او له همدې امله په قانوني بڼه په يوه هېواد کې اوسېږي، په داسې حال کې چې نورو ښايي د خپل شتون په اړه مسووليتونه ته ويلي نه وي او له همدې امله ښايي داسې په پام کې نيول شوي وي چې په هېواد کې په غيرمنظم ډول اوسېږي. په وضعيتونو او اداري حالاتو کې دغه توپيرونه د هغوی پر امنيت او ټوليزه رفاه يو مهم اغېز لري، تر اوسه ټول نارينه، ښځې او ماشومان چې په سفر کې دي په سيمه کې له ننګونو سره مخ کېږي او داسې اړتياوې لري چې د هغوی لپاره حل لارې موندل کېدای شي.

WeBSafe اپلیکېشن به تاسو ته په داسې ژبه اړوند معلومات چمتو کړي چې تاسو پرې پوهېږئ، پرته له دې چې ستاسو مشخص وضعيت يا اداري حالت په پام کې ونيول شي، اجازه درکوي چې ستاسو د اړتيا وړ ملاتړ او مرستې ته لاسرسی ولرئ.

